**د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوتیرس**

**--**

**افغانستان په اړه د وزیرانو کنفرانس ته ویډیويي پیغام**

**جنیوا، د ۲۰۱۸ کال د نومبر ۲۸مه**

ولسمشر غني،
جلالتمآبانو،

خوشحاله یم چې په دې مهم کنفرانس کې له تاسو سره خبرې کوم.

زموږ زړونه له ټولو هغو افغانانو سره دي، چې د جګړو، شخړو او زیانونو له کبله اغیزمن شوي دي. دغه کنفرانس په داسې حال کې تر سره کیږي، چې تاوتریخوالی لا پراخ شوی او دسولې لپاره مهم فرصتونه ازمایل شوي دي.

زه د بدلون او پر ځان د بسایني په موخو ستاسو له تمرکز څخه، چې څلور کاله وړاندې د بدلون لسیزې په پیل کې د افغانستان له خوا ټاکل شوي، هر کلی کوم.

د جنیوا د متقابلې حسابولۍ چوکاټ چې تر ۲۰۲۰ پورې به موږ ته لارښوونه کوي، سولې او امنیت ته په رسیدو کې پرمختګ او اصلاحات اړین بللي دي.

زه هیله من یم چې ننی غونډه وکولی شي هغه ثبات ته د رسیدو د نورو هڅو لامل شي، چې افغانان یې له ډیرو کلونو راهیسې غوښتونکي دي.

د نړیوالې ټولنې په توګه مونږ باید د افغانانو په مالکیت او مشرۍ د سولې پروسې د بریالیتوب لپاره سره یو شو. او کله چې د سولې موافقه وشي نو پیوستون دوامداره او تلپاتې کړو.

تاسو ته ښه او ګټور کنفرانس غواړم.